صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

مباحثات

بروز منگل مورخہ 9 فروری 1999

(بمطابق 22 شوال 1419 ہجری)

جلد 14 شمارہ 1

مندرجات

	صفحہ نمبر
1۔ تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ	1
2 ۔ رخصت کے لئے معزز اراکین کی درخواستیں	2
3۔ مسند نشینوں کی نامزدگی	29
4۔ درخواستوں کے بارے میں کمیٹی کی تشکیل	29
5 ۔ مسئلہ استحقاق	30
6 ۔ تحاریک التوا	47

صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

اسمبلی کا اجلاس، اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز منگل مورخہ 9 فروری 1999ء بمطابق 22 شوال 1419 ہجری صبح دس بجکر چالیس منٹ پر منعقد ہوا۔

جناب سپیکر، ہدایت اللہ چمکنی مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ

اَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ہ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ہ

وَ یَوْمَ نَبْعَثُ فِیْ کُلِّ اُمَّۃٍ شَہِیْدًا عَلَیْہِمْ مِّنْ اَنْفُسِہِمْ وَجِئْنَا بِکَ شَہِیْدًا عَلٰی ہٰٓؤُلَآءِ وَ نَزَّلْنَا عَلَیْکَ الْکِتٰبَ تِبْیَانًا لِّکُلِّ شَیْءٍ وَّ ہُدًی وَّ رَحْمَۃً وَّ بُشْرٰی لِلْمُسْلِمِیْنَ ہ اِنَّ اللّٰہَ یَاْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ وَاِیْتَآئِ ذِی الْقُرْبٰی وَ یَنْہٰی عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْکَرِ وَالْبَغْیِ یَعِظُکُمْ لَعَلَّکُمْ تَذَکَّرُوْنَ ہ وَ اَوْفُوْا بِعَہْدِ اللّٰہِ اِذَا عٰہَدْتُّمْ وَ لَا تَنْقُضُوا الْاَیْمَانَ بَعْدَ تَوْکِیْدِہَا وَ قَدْ جَعَلْتُمُ اللّٰہَ عَلَیْکُمْ کَفِیْلًا ہ اِنَّ اللّٰہَ یَعْلَمُ مَا تَفْعَلُوْنَ ہ صَدَقَ اللّٰہُ الْعَظِیْمِ ہ

(سورہ النحل پارہ ۱۴)

(ترجمہ) اے محمد (صلی اللہ علیہ وسلم) انہیں اس دن سے خبردار کرو جب کہ ہم ہر امت میں اسی کے اندر سے ایک گواہ اٹھا کر لائیں گے جو اس کے مقابلے میں شہادت دیگا اور ان لوگوں کے مقابلے میں شہادت دینے کیلئے ہم تمہیں لائیں گے اور ہم نے ایک کتاب تم پر نازل کر دی ہے جو ہر چیز کی صاف صاف وضاحت کرنے والی ہے اور ہدایت، رحمت اور بشارتیں ان لوگوں کیلئے ہیں جنہوں نے سر تسلیم خم کر دیا ہے۔ اللہ عدل، احسان اور صلہ رحمی کا حکم دیتا ہے اور بدی، بے حیائی اور ظلم و زیادتی سے منع کرتا ہے اور تمہیں نصیحت کرتا ہے تاکہ تم سبق لو۔ اللہ کے عہد کو پورا کرو جبکہ تم نے اس سے کوئی عہد باندھا ہو اور اپنی قسمیں پختہ کرنے کے بعد توڑ نہ ڈالو، جبکہ تم اللہ کو اپنے اوپر گواہ بنا چکے ہو۔ اللہ تمہارے سب افعال سے باخبر ہے۔ وَمَا عَلَیْنَا اِلَی الْبَلَاغ۔

جناب محمد ایوب خان آفریدی، جناب سپیکر صاحب۔

جناب سپیکر، یو منټ، د Leave applications نه پس۔

جناب اکرم خان درانی، جناب سپیکر صاحب! پوائنٹ آف آرڈر۔

جناب محمد ایوب خان آفریدی، سر! سردار مشتاق صاحب کے والد صاحب اور حاجی یوسف ترند صاحب کے بھائی کیلئے دعائے مغفرت کرنے کی ایوان سے درخواست کرتا ہوں۔

جناب سپیکر، مولانا صاحب! دعا اوکړئ د ټولو مړو د پاره، دعا اوکړئ۔

میاں افتخارحسین، جناب سپیکر! د حاجی عدیل صاحب خور هم وفات شوے وه جی۔

ارباب سیف الرحمان، جناب سپیکر! خدائی خدمتگار، عبدالرحیم جرنیل وفات شوے دے، د هغوی د پاره هم یوه دعا پکار ده چه اوکړے شی۔

جناب سپیکر، جی، ټولو د پاره دعا اوکړئ جی۔

جناب باز محمد خان، محترم سپیکر صاحب! زه یوه خبره کومه جی۔ زمونږ په بنوں کښ په 27 دسمبر باندے د حکومت د ظلم او د بربریت په نتیجه کښ شپږ کسان -------

جناب سپیکر، هغه خو ما اوونیل کنه، د Leave applications نه پس به دا نور پوائنټ آف آرڈر اوچتوو۔

جناب باز محمد خان، شپږ کسان شهیدان کړے شوی دی جی۔ دعا د پاره وایمه جی۔

جناب سپیکر، دعا د پاره؟

جناب باز محمد خان، او کنه جی، تاسو ما ته د خبرے کولو اجازت نه راکوئ، دعا د پاره زه دا خبره کومه چه هلته شپږ کسان شهیدان شوی دی جی، تاسو د هغوی د پاره اوونیل چه دعا د اوکړے شی۔

جناب محمد ایوب خان آفریدی، تاسو اوونیل جی چه په جمع د دعا اوشی جی۔

(اس مرحلہ پر مرحومین کیلئے دعائے مغفرت کی گئی۔)

اراکین اسمبلی کی رخصت

جناب سپیکر، معزز اراکین اسمبلی، جناب سید علی شاہ صاحب، ایم پی اے نے 9-2-1999

تا 11-2-1999 اور جناب سلیم سیف اللہ خان صاحب، ایم پی اے نے 9-2-1999 کیلئے رخصت کی درخواستیں ارسال کی ہیں تو Is it the desire of the that Leave may be granted to the honourable Members?

(The motion was carried.)

Mr. Speaker: The leave is granted. Jee, Bashir Khan!

جناب بشیر احمد بلور: جناب سپیکر صاحب! ډیره مهربانی- زه ستاسو توجه دے طرف ته راګرځوم چه زمونږ د اسمبلئ یو ډیر معزز ممبر، شعیب خان نن په اسمبلئ کښې موجود نه دے- هغوی باره کښې حکومت دا وائی چه د هغوی کیس سیشن کورټ Reject کړو او هائیکورټ کښې د هغوی کیس وو خو دا تاسو منئ چه چار تاریخ باندے د هغوی کیس وو او صوبه کښې لاء آفیسرز چه کوم دی، لاء منسټر صاحب ناست دے، زما خیال دے چه تقریباً لس کسان دی، ایډیشنل ایډوکیټ جنرل درے دی او درے اسسټنټ ایډوکیټ جنرل دی او درے پکښې لاء آفیسرز دی او ایډوکیټ جنرل موجود نه وو نو هغه کیس Adjourn کړے شو صرف په دے وجه چه ایډوکیټ جنرل نه وو- نو پکار دا دی چه دا دومره فوج دوئ ولے بهرتی کړے دے چه هغوی دومره نه پوهیږی چه هغه باندے خالی Bail application matter چه دے، هغه تاسو ته پته ده، تاسو پخپله هم وکیل یئ او تاسو پخپله ډیر لونے پریکټس او تعریف لرئ، په دے Bail کښې داسے څه خبره هم نه وه خو صرف Delaying tactics او دے سره دا ده چه په FIR کښې هغوی ډائریکټ چارج هم نه دی، یو Mob وو- Mob سره د پیپلز پارټئ خلق وو، د مسلم لیګ خلق وو، زما خیال دے چه داسے یوه پارټی هم نه ده چه د هغوی خلق پکښې نه وو خو صرف دا حکومت زیاتے کوی، ظلم کوی او زمونږ دا ایم پی اے چه کوم دے، او عدالت بیا ټول کیسونه واپس کړل خو صرف شعیب خان چه دے، د هغوی اوسه پورے هائیکورټ کښې کیس پاتے دے- زه دا عرض کوم په دے فلور آف دی هاؤس باندے چه دا حکومت چه دے، دا بالکل پولیس سټیټ جوړشوے دے- بله ورځ زمونږ میاں افتخار صاحب، زمونږ کشر ورور دے، دوئ باندے داسے لاټهی چارج او واهل ټکول، نو داسے حکومت نه کیږی- پکار دا

دی چه زمونږ چیف منسټر صاحب موجود دے چه په هر یوے خبرے باندے پخپله سوچ اوکړی او حکومت نه د پولیس ستیټ نه جوړوی۔ مهربانی۔

Mr. Akram Khan Durrani: Point of order, Sir.

جناب سپیکر، جی!

جناب اکرم خان درانی، جناب سپیکر! زمونږه ورور بشیر خان صاحب چه کومه خبره اوکړه، حقیقت دا دے چه جلسه، جلوس، دا یو جمهوری حق دے او هر خانے کښې چه کله داسے جلسه جلوس وی نو که د هر یو پارټئ سره تعلق لری هغه کسان د هغوی Leading هم کوی او شعیب خان یوازے نه وو لکه په دے کښې دا یو شریکه غونټے کښې جلسه او جلوس وو۔ په دے کښې د هر یوے پارټئ خلق وو جی۔ چه دلته ځومره پارټئ دی، Even کیدے شی چه د مسلم لیک خلق هم وی په هغه جلسه کښې او په هغه جلوس کښې۔ زما خیال دے چه د شلو کسانو خلاف FIR شوے وو نو باقی FIR چه دے، هغه واپس شوے دے چه هغه چا باندے وو او صرف یو د شعیب خان هغه پاتے دے۔ نو مونږ د دے پرزور مذمت کوو او ورسره ورسره لکه دا په بدنیتئ باندے دے او څنګه چه بشیر خان صاحب اوونیل چه کله ایډوکیټ جنرل نه وی نو عام طور باندے همیشه طریقه دا ده چه وروستو په هغه پسے څوک وی نو هغه ئے کوی۔ او که داسے اوشی، دا میاں صاحب دے، زمونږ خو میاں هم دے او زمونږه خو ورور هم دے او څنګه چه په دے معزز ورور باندے هغه تشدد شوے دے او که دا سلسله جاری وی، دا خو به د دے صوبے د پاره د امن و امان یوه داسے مسئله جوړه شی چه ډیر تکلیف ده مقام ته به اورسی۔ نو مونږ د دے پرزور مذمت کوو جی او دا سلسله د بند شی۔

جناب سپیکر، احمد حسن خان۔

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر! ښه خبره دا ده چه لیډر آف دی هاؤس تشریف فرما دے او زمونږه لاء منسټر چه ډیر پوهه، قابل او شریف انسان دے او د دغه خوبیانو په وجه باندے مونږه اکثر د هغوی سره ډیره زیاته ګزاره کوو، زمونږ ډیره رهنمائی کوی خو اکثر ئے چه زمونږه رهنمائی کړے ده

نو مونږ په داسے لار واچوی چه د هغے د نتیجے بیا مونږه ته هدو پته او نه لگی- دلته مهربانی اوکړئ چه زه به پکښ لیدر آف دی هاؤس سره خبره اوکړمه او تاسو به پرے بیا پوهه کړمه- هغه پوهه، چه دوئ مونږ بیا کله پوهوی، د هغے پورے به اسمبلی ختمه شی شاید چه مونږ به پوهه نه شو-نن پکښ هغه ضرورت پاتے نه شو ځکه چه براه راست زمونږه د دے هاؤس مشر دلته تشریف فرما دے او دا ښه خبره ده- جناب سپیکر، په دے صوبه کښ، په دے پختونخوا کښ مونږ همیشه د روایاتو خبره کوو، د عزتِ نفس خبره کوو او مونږه په دے کښ د وروروڼئ خبره کوو، مونږ په دے کښ د مینے خبره کوو- نن رښتیا خبره دا ده چه زه ډیر په افسوس سره دا خبره کوم جناب سپیکر، چه دا پوهه خلق ورته Heavy heart وائی او چیف منسټر صاحب پرے پوهیږی، په هغه لحاظ سره زه خبره کوم چه زمونږه یو انتهائی پوهه، پښتانه خو هسے هم بهادران خلق دی، د شعیب خان په پښتو او په بهادرئ کښ څه شک نشته دے خو نن ورته زه د عقیدت پیرخونه وړاندے کوم چه زما دومره توقع نه وه چه دے دومره هم بهادر دے جناب سپیکر، (تالیاں) د هغوی نه خو دے حکومت یو داسے شخصیت جوړ کړلو د خپل غلط پالیسو، د خپل جبر پالیسئ په نتیجه کښ، د خپل د ناپوهیدو د پالیسئ په نتیجه کښ، د خپل انتقامی کارروائئ په نتیجه کښ خو شعیب خان نن د دے پختونخوا مرد آهن اوګرځیدو- دوئ نے چه هر څومره په دغه جیل کښ کښینوی خو د هغه قد کاټ لوړیږی، زیاتیږی- په دغه ورځ جناب سپیکر، په دغه ځائے کښ یوازے مظاهره نه ده شوے، په بټ خیله کښ شوے ده، په چکدره کښ، په ادینزئ کښ شوے ده او د دے پختونخوا په سمه، غر، په هره علاقه کښ شوے ده- په هغه وخت کښ چه د لوډ شیډنګ کوم صورتحال وو او هغه د چا نه پټ نه وو- په هغے باندے دے چیف منسټر صاحب پخپله، It is on the record پخپله پرے Concern show کړے دے او خبرے نے پکښ کړے دی او زما په خپل خیال د دے چیف منسټر صاحب او د لیدر آف دی هاؤس د دغے نظریے او د دغے سوچ او د دغے دغه عکاسی کړے ده- شعیب خان چه د ټولو سیاسی پارټو بشمول مسلم

لیک جناب سپیکر، په دغه ورځ په ادینزئ کښې جلوس اوتے دے او د هغے Leading هاشم خان غونتے بهادر مسلم لیګی ----------

جناب محمد هاشم خان (دیر): پوائنټ آف آرډر، سر۔ زه ---------

جناب سپیکر: لږ صبر اوکړه، یو پوائنټ آف آرډر باندے بل پوائنټ آف آرډر نه کیږی۔ دے نه پس به بیا جواب ورکړئ۔

جناب احمد حسن خان: د هغے جلوس لیډنګ هاشم خان کړے دے، هاشم خان پکښې تقریر کړے دے، د چارسدے هاشم خان نه، د دیر بهادر هاشم خان کړے دے جناب سپیکر۔ (قهقهے) دوئ د اوس توبے اوباسی نو د دوئ توبے نه منلے کیږی۔ دا خو به دے باندے اوباسی چه د دوئ په FIR کښې نوم نه راځی او بیا د نورو خلقو نومونه نے پکښې وړاندے کړل چه دوئ لیډری کړے وه۔ نو دوئ به خپله لیډری منلے وه جناب سپیکر۔ ----------

جناب محمد هاشم خان (دیر): جناب سپیکر! زه په پوائنټ آف آرډر باندے یو عرض کوم ----------

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! زما عرض دا دے، زما درخواست دا دے -----

جناب سپیکر: دے نه پس به خبره اوکړئ کنه جی، دے نه پس۔ هغوی خبره ختمه کړی، بیا تاسو اوکړئ جی۔

جناب احمد حسن خان: زما درخواست دا دے چه کوم خائے کښې مونږه د روایاتو خبره کوو، کوم خائے کښې مونږ د محبت خبره کوو، کوم خائے کښې مونږ د ورورولئ خبره کوو، دا د یو منتخب ورور حق جوړیدو، ضمانت یو Discretion دے د یو عدالت چه دا خو هډو حکومت Contest کړے نه وے جناب سپیکر۔ ضمانت څه مطلب جناب سپیکر؟ د هغه جرم خو چرته تلے دے نه، که هغه څه جرم کړے وے، هغه جرم په هغه خائے باندے پروت دے او په کاغذونو کښې او د قانون په حوالو سره هلته پروت دے خو هغوی ته یو Respect ورکولو د پاره او بیا جناب سپیکر، هغوی لیډنګ کړے دے د ټولو سیاسی ګوندونو او بیا چه د کوم نقصان دوئ دا دعوئ کوی چه دومره نقصان ترے نه شوے دے نو زه په دعوئ سره وایم چه دغه نقصان هم نه دے شوے جناب سپیکر۔ جناب سپیکر! چه کله مونږ دا وایو چه تاسو غلطیانے کړے

وے او ستاسو د غلطیانو په بنیاد باندے مونږ له خلقو مینډیټ راکړے دے او مونږ دا وایو چه بیا تاسو ولے غلطیانے کوئ، بیا ستاسو دغه حشر کیدونکے دے کوم چه زمونږ شوے دے جناب سپیکر۔ نو زه تاسو ته دا عرض کوم په دے کښ او دا خو حیله بهانه ده۔ لاء منسټر صاحب د اُووائی چه دوئ سره لاء آفیسرز نشته دے؟ جناب سپیکر دا خو بیا تاسو مونږ ټولو نه زیات پوهیږئ۔ بیا که ستاسو نه په دے هاؤس کښ څوک زیات پوهیدونکے دے نو هغه لیډر آف دی هاؤس دے، وزیر قانون خو به خواه مخواه پوهیږی، په دے کښ خو ئے Ordinary وکیل له هم دا اختیار ورکولے شو چه On behalf of the Government ورشه، ته دا کیس Pursue کړه او دے Law Minister سره چه دا Meeting کیدو چه څه ورسره اوکړو، نور ئے څومره پابند سلاسل اوساتو؟ ده به وئیلی وو چه نه، دا ممبر دے، دا عوامی نمائنده دے، دا به سبا راځی او که جرم پرے ثابت شو، سزا د ورله ورکړی او یو بل ممبر، چه زه د خپلو بچو سره، د خپل خاندانو سره او د خپلو خلقو سره د اختر خوشحالیانے مناؤوم، زه او چیف منسټر صاحب او لیډر آف دی هاؤس او لیډر آف دی اپوزیشن او نور رونړه، زمونږه یو بل معزز رور میاں افتخار حسین صاحب د دغے اختر په ورځ د عوامو په احتجاج کښ شریک وو، هغه په جیل کښ شپه تیره کړے ده جناب سپیکر۔ د دے پالیسو نتیجه ډیره زیاته خطرناکه وی۔ مونږ ورته دا وایو او مونږ ورته دا درخواست کوو، دا پولیس سټیټ نه دے جناب سپیکر۔ یو عوامی نمائنده دے او مونږه په دے باندے ډیر زیات خفه یو۔ مونږه په درد مند زړه سره دا خبره کوو چه د حکومت دا عمل ټهیک نه دے او د دے نتائج به ښه نه وی جناب سپیکر۔

<u>جناب سپیکر</u>: جی نه، Let him چه On a personal explanation خبره اوکړی۔ جی، هاشم خان!

<u>جناب محمد هاشم خان (دیر)</u>: احمد حسن چه په ښکلی انداز باندے کومے خبرے پیش کړلے صاحب، د دے د حقیقت سره هیڅ تعلق نشته دے۔ زه په دغه ورځ باندے روان یمه سوات ته خمه۔ یو زما یو ملګرے دے، سید چه هغه په

دے هاؤس کښې ناست هم دے، مونږه دوه په دوه باندے وو چه کله مونږه د دے گرډ خوا ته راورسیدو نو دلته کښې جلوس راروان وو، اسپنړ ساند نه هم راروان وو او چکدرے نه هم راروان وو او هلته کښې چه ما اوکتل نو زمونږه وزیر اعظم صاحب ته کنځلے کیږی، ما گاډے ساند ته کړو او د اسپنړ یو کس دے چه هغه ما د گریوان نه اونیوؤ چه ته کنځلے ولے کوے؟ بیا هغه کسانو چه کوم ما اوکتل، د پیپلز پارټئ کسان وو پکښې، نو ورته نے اووئیل چه یا هلکه، نور څه خو نه کیږی خو د خرچے د پاره دا بوردونه به مات کړو، په دے به خرچه اوکړو۔ تر دے حده پورے دا ښیز وو۔ زه بیا تلے یم صاحبه۔ جلسه د دوئ شروع وه، د مختلفو پارټو کسانو کوم تقریرونو چه کړی وو، هغوی تقریرونه اوکړل، د هغے نه بعد پکښې د لوډ شیډنګ خبره راغله چه میاں صاحب ته نے کومو الفاظو باندے هغوی هغه دغه کښې اوکړل خو دا نے اووئیل چه سیاسی خبرے به نه کوؤ۔ کله چه دا سیاسی خبرے هغه شروع کړے نو زمونږه سابقه ایم پی اے صاحب ته ما اووئیل چه گوره، دا ځله د سنبهال کړه گنی نو د دے سټیج نه د ښکته غورزوم۔ تا خو وعده کړے ده چه دلته کښې به مونږه سیاسی خبرے نه کوؤ، په کوم انداز کښې ته لګیا نے سیاسی خبرے کوے سوا؟ لوډ شیډنګ مسئله وه صاحب، نو زه به دا اووایمه چه په دغه خانے کښې د لوډ شیډنګ، ټهیک ده چه وو، لیکن چه په دغه تحصیل حلیمزئ یا په ضلع دیر کښې د بجلئ کومه غلا ده صاحبه، دا د پاکستان په یوه حصه کښې هم نشته دے۔ دومره کیدے شی، نن دا هزار میگاواټ بجلی چه سوا شوے ده، نو د دے مقصد دا دے چه مونږه ته دویم پاؤرهاؤس ملاؤ شو۔ قوم ته سهولت راغلے صاحبه۔ هغه بجلئ چه د ډیوے هومره رنړه به نے نه کوله، نن په هغے متواتر راډونه لګی صاحبه، هغه تر دومره حده پورے سوا شوے ده۔ زه به دا اووایمه، زما متعلق په اخبار کښې راغلل چه احمد حسن خان ته میټر اولګیدو، صاحبه تر اوسه پورے دوئ ته میټر نه وو صاحبه یو ایم پی اے ته هم، سابقه ایم پی اے ګانو ته، او زما متعلق دا راغلل ----------

<u>جناب سپیکر</u>، بس اوشوه کنه۔

جناب محمد ہاشم خان (دیر)، زه عرض کوم جی چه هغوی لیکی چه هاشم خان هم دیرش زره روپئ داخلے کړے، ما اخبار له صاحبه، قانونی نوټس ورکړے دے چه زما په ټوله زندگئ کښ، ته دیرش زره روپئ وائی او که تا پینځه زره زما متعلق بقایا جات ما ته ښکاره کړل، نو زه به د هغے جرمانه ورکړم۔ ما قانونی نوټس هغوی ته ورکړے دے او زه په دے نه یم صاحبه چه گنی یره احمد حسن خان دا خبره اوکړه چه هاشم خان لیډنگ کړے دے د دغه۔ چه ما کړے وے نو ما به بالکل وئیلی وے لیکن زه ده ته دا عرض کوم چه کم از کم زما متعلق، زه په دے دروغو باندے ډیر سخت انتهائی خفه کیږم او بیا هسے نه چه زما د خُلے نه الفاظ داسے اوخیژی چه هغه زما او ستا د پاره ښه نه وی۔ شکریه۔

جناب سپیکر: جی، نجم الدین خان۔

جناب احمد حسن خان، پوائنټ آف آرډر۔ نه نه جناب سپیکر صاحب، سخت Allegation اولگیدو، ډیر سخت Allegation اولگیدو په دے هاؤس۔ جناب سپیکر! ما خو ورته "بهادر" هاشم خان وئیلے وو خو دا "بهادری" تکے ترے زه واپس اخلم۔ زه عرض کوم، په ما سخت الزام جناب سپیکر، خدائے شته زه تاسو ته دا خبره کومه، ما ته چا وئیل چه تا هغه اخبارله نوټس ورکړه چه په کوم اخبارکښ دا وئیلے شوی دی چه دوئ د بجلئ په حواله سره زمونږ په کردار باندے بحث شوے وو۔ جناب سپیکر، ستاسو په وساطت سره د ټول ایوان او د ټولے صوبے په خدمت کښ عرض کومه جناب سپیکر، لیډر آف دی هاؤس ناست دے، لیډر آف دی اپوزیشن ناست دے، چیمبر کښ ناست دےآوری، دلته سامنا نه شی کولے، هلته تلے دے، هلته آوری۔ جناب سپیکر، زه هغه ممبر یمه او د هغه خاندان سره تعلق لرمه که نور څوک ما پیژنی او که نه پیژنی، هاشم خان او د هاشم خان والد صاحب پیژندم چه زه دکوم سړی بچے یمه جناب سپیکر، او زما کردار د رنړه ورځے په شان صفا دے۔ زما لیډر دلته په دے هاؤس کښ ناست دے، لیډرآف دی هاؤس ناست دے او تاسو تشریف فرما یئ او دا ټول هاؤس ناست دے، مونږه هغه خلق یو چه په مونږه باندے د حکومت یوه پیسه جناب سپیکر، Liabilities نشته۔تر دے

حده پورے چه زه منسټرۍ نه ختم شوم نو په ما پسے یو بل راغلو چه تا سرکاری گاډی استعمال کړی دی، 1,98,000 روپۍ بل راپسے راغلے جناب سپیکر، ټولو ممبرانو Stay واخسته او دلته سینیئرسول جج چه څوک وو، هغه زما خپل برخوردار وو، هغه ما ته اوونیل چه ته هم Stay واخله۔ ما وئیل چه حکومت دا Claim کوی چه په ما دا پیسے دی، ما هغه 1,98,000 روپۍ داخلے کړے۔ (تالیاں) جناب سپیکر! جهانزیب دلته ناست دے او په ایمانداری د پاخی۔ نن دا ضرورت په دے پیښ شو، ما آن دی ریکارډ دا خبره راوسته، دا به د دے قوم دا بچی لټوی جناب سپیکر، دا به لوَلی سبا، دا به په ریکارډ باندے وی چه احمد حسن په دے هاؤس کښ داسے یو ممبر پاتے شوے دے، تر ډپټی سپیکرۍ پورے، دا ستاسو سره چه کوم سیکرټری پاتے شوے دے، ما ټی اے/ ډی اے نه ده اخستے په دے هاؤس کښ د ډیوټۍ پّه لحاظ کښ جناب سپیکر، زه هغه ممبر یم، ما منظور باچا پیژنی، ما د صوبه سرحد او ضلع دیر هر سپین گیرے او هر خلمے پیژنی۔ جناب سپیکر، د میټر په حواله سره زه نن هم دا وایم، خبره صرف دا ده جناب سپیکر، ده ته هم پته ده، زما مشر ورور دے چه هغه کور جوړ کړے دے او زه د اخبارواله رونړو ته دا وایم چه کله تاسو خبر ورکوی نو تاسو احتیاط کوئ ځکه چه د بعضوخلقو زړه ته په دے باندے ډیر زیات ټهیس رسی جناب سپیکر، زه او زما مشر ورور په یو کور کښ مونږه اوسیدو، زما د مشر ورور په نوم باندے میټر وو جناب سپیکر، زما مشر ورور خان له کور ساز کړو او This is on the record چه په دولسم دسمبر باندے هغه خپل نوے کور ته شفټ شو لهذا زمونږه په کورکښ هغه میټر زما د ورور په نوم باندے وو او متعلقه ایس ډی او ته دا اولیکل چه زما د ورور په حساب سره، دا د آرمی د خبرے نه مخکښے وه چه آرمی راتله جناب سپیکر، او ما ته چا اوونیل چه ته په اخبار کښ صفائی اوکړه، ما ته چا اوونیل چه ته ورله نوټس ورکړه۔ خو ما وئیل چه دے اخبار والا په خلقو باندے خان ډیر زیات اوکنځلو ولے؟ ځکه اوکنځلو چه که ده دا وئیلی دی چه احمد حسن غلا کړے ده نو چه څوک ما پیژنی چه احمد حسن غلا کولو والا بچے نه دے، نو هغه به ورته

خواه مخواه بد رد وئیلی وی۔ جناب سپیکر! ما قوم پیژنی، د قوم دا بچی ما پیژنی، د قوم دا خلمی ما پیژنی، زه د عوامو په دے خدمت کښ جناب سپیکر، ملنگ شوے یمه، فقیر شوے یمه خو ما د الله په فضل سره د یوے پیسے د گټے کوشش نه دے کړے۔ دویمه خبره چه کوم ده، ده پخپله دا Prove کړه چه He was present on the spot. او دا هم اووایمه چه دا په دغه ورځے خلقو په ځپیرو باندے وهلے دے چه ته د حکومت ممبر یے، ته څنگه په دے خائے کښ ناست یے؟ جناب سپیکر! ---------

جناب محمد ہاشم خان (دیر): داسے څوک نه دی پیدا شوی چه ما ته دغه اوکړی۔ ته چه د خپل خاندان دغه کوے، دا زه پیژنم صاحبه، ما هم پیژنی او تا هم پیژنی خلق، دا خبرے هغه چا ته کوه چه څوک ----------

جناب احمد حسن خان: زه تاسو ته دا عرض کوم چه کوم ممبر خبره کوی، هغه ممبر د صفا اوسی جناب سپیکر۔ مونږه زمیندارخلق یو جناب سپیکر، مونږه پیسے ورکوو خو په تاخیر سره ئے ورکوو۔ نن هم زما د ټیلیفون بل چالیس هزار روپئ دی، نن هم ما نه دی ورکړے خو زما دا ایمان دے چه څنگه زما د پټی نه ما له پیسے راشی، زما سره Day to day د Expenses اخراجات نشته جناب سپیکر، تاسو چه مونږه له څه راکوئ، مونږه هغه نه شو برداشت کولے او نن زه په دے خبره کولو او په دے سوچ کولو باندے مجبور یم چه مونږ هغه څه نه شو کولے کوم څه چه د قوم د پاره دی او په دے کښ مونږه خپل جائیداد او خپل عزت بائیلو۔ نو آیا مونږه دا فیصله ولے نه کوو چه مونږ کور په قلاره باندے کښینو؟ د هغه خلقو په سوچونو کولو کښ زه جناب سپیکر، مجبور یمه، خو دے د د شعیب خان مرسته اوکړی۔ دے د دا نه وائی، شعیب خان یو پښتون بچے دے، شعیب خان یو غیرت کړے دے، شعیب خان د ټولو سیاسی پارټو لیډنگ کړے دے، ده په چکدره کښ کړے دے، منکر دے پرے، هغه په بټخیله کړے دے، نن هم پرے ولاړ دے۔ د راوتو حق لری جناب سپیکر، او په دے سلسله کښ تاسو ته دا اپیل کوم چه تاسو هر قسم انکوائری اوکړئ جناب سپیکر، که زمونږه په خواله سره د بد

دیانتیٔ او د بے ایمانیٔ څه خبره وی، ما ته دے ډپټی سپیکر صاحب، دا دے زما وروردے، وئیل چه د اخبار په حواله سره ستا په نوم باندے خبر راغلے دے، ما ورته وئیل د هیڅ قسم د Clarification ضرورت نشته دے۔ کوم خلق چه ما پیژنی او کوم خلق چه په ما خفه کیږی، هغوی د پاره زما د Clarification ضرورت نشته او د چا چه راسره بد نیتی ده نو هغه به راپسے خبره کوی، د هغوی زړونه زه نه شم صفا کولے۔ نوجناب سپیکر، هر ممبر د محتاط اوسی، په دے هاؤس کښې داسے ممبران شته چه هغوی ته په خپلے فقیریٔ او عاجزیٔ باندے فخر دے جناب سپیکر، هغوی ته په خپلے ایمانداریٔ باندے فخر دے او هغوی ته د خپلو مشرانو په کردار باندے فخر دے جناب سپیکر۔

جناب سپیکر، احمد حسن خان، یو منټ جی، یو منټ۔ داسے کار اوکړیٔ جی دا اوس د پوائنټ آف آرډر نه سم ډیبیټ جوړ شو جی، مهربانی اوکړیٔ د مقصد خبره چه کومه ده، هغه اوشوه۔ په هغے ډیرے خبرے اوشوے۔ که تاسو په دے باندے دغه کوئ او بیا یو بل ته هم Reference کوئ، نو هغه پکښې Personal explanation هم راځی ------ اهم خبره کوی تاسو؟ ----------

جناب محمد ہاشم خان، پوائنټ آف آرډر۔ اولس گواه دے، دے پیژنی، زه ئے هم پیژنم صاحبه۔ مونږه د هغے علاقے خلق یو، مونږه نااشنا نه یو د یو بل نه۔ داسے څوک نه دے پیدا شوے چه په ما د څپیړے گزار اوکړی۔ تر څو پورے د منکریدو خبره ده، زه منکریدو والا نه یم ----------

جناب نجم الدین، سر! نمبر زما مخکښے دے -------

حاجی محمد عدیل، جناب سپیکر! حکومت کی طرف سے جو اب تو بعد میں آئے گا لیکن پہلے ہماری بات تو سنی جائے -------

جناب سپیکر، جو وہاں کا ممبر ہے، وہ تو پہلے بات کرے گا ناں۔

حاجی محمد عدیل، ہاں، وہ کرے لیکن اس کے بعد میرا نمبر ہے اور میرے بعد بے شک سبحان خان بولیں، وزیر قانون بات کریں ----------

جناب عبدالسبحان خان (وزیر اطلاعات)، میں تو ----------

جناب سپیکر، دے پسے نے اوکړئ، تاسو کښینئ۔

حاجی محمد عدیل، یہ اسلئے اہم ہے کہ ہم سمجھتے ہیں کہ یہ ہاؤس نامکمل ہے اور جب تک یہ ہاؤس مکمل نہیں ہوگا، یہ نہیں چل سکتا۔

جناب سپیکر، نجم الدین خان، نجم الدین خان ----------

جناب محمد ہاشم خان (دیر)، زہ نہ منکریږم ----------

جناب نجم الدین، دوئ د لږ کښینی، دوئ د کښینی، زمونږہ خبرہ د ښہ پہ سوچ واوری ----------

جناب سپیکر، تشریف کیږدئ جی۔

جناب نجم الدین، لږ د دوئ صبر اوکړی۔ د حکومت دا وزیران صاحبان د لږ پہ قلارہ کښینی۔ مونږہ څہ بدہ خبرہ نہ کوو، ټهیک خبرہ مو روانہ کړے دہ جی، مونږہ خو د شعیب خان خبرہ کولہ ----------

جناب سپیکر، ریفرینس مہ کوئ جی ممبرانو تہ، بیا پہ Personal explanation هر یو پاڅی او ټول ټانم ضائع کیږی۔ خپلہ د مقصد خبرہ کوئ۔

جناب نجم الدین، نہ سر، نو پہ مونږہ خو ډائریکټ الزام اولګیدو۔ بس څہ بہ نہ وایو، خیر دے جی، هیڅ بہ نہ وایو۔ زہ عرض دا کوم سر، چہ هغہ بلہ ورځ پہ ایجنډہ باندے بحث وو نو زہ د اپوزیشن د طرف نہ هلتہ کښ ناست وومہ۔ ما ستاسو پہ نوټس کښ پہ هغہ ورځ راوستے وہ جی، د وزیر قانون صاحب پہ نوټس کښ ما دا خبرہ راوستے وہ او پہ دے ډیټیل ما پوهہ کړی وو جی۔ پہ ملاکنډ ډویژن کښ لوډشیډنګ هم شتہ او لوډ منیجمنټ هم شتہ جی۔ یوہ ګهنټہ چہ لوډ شیډنګ اوکړی نو پینځہ ګهنټے هلتہ لوډ منیجمنټ وی۔ وائی چہ دا فیډر لائن آوور لوډ دے او دا د لسو کالو نہ دا خبرہ کیږی خو دے کښ د دے نہ هم زیات شوے وو جی، خلق ټول راووتل جی، پہ دے خلقو کښ د ټولو پارټو خلق شامل وو جی، عوام پکښ شامل وو۔ خان لالا خو هسے د دے خبرے تښتی، ګنی دے هم پکښ شامل وو خکہ چہ خلقو نہ پریښودو۔ دے خلقو نہ پریښودو، دے بہ راوتو اوپہ دغہ خائے کښ، نن چیف منسټر صاحب تہ پخپلہ پتہ دہ چہ خان لالا پہ دے جلسہ کښ تقریر

کړے دے خکه ----------

جناب محمد ہاشم خان (دیر)، جناب سپیکر ! Personal explanation نجم الدین خان دا ټهیک وائی -------

جناب نجم الدین، اودریږه، چه زه خپله خبره اوکړمه۔

جناب سپیکر، لږ کښینئ جی، تشریف کیږدئ، تاسو خو یو گهنټه خبره اوکړه کنه، بس کښینئ، مینځ کښ Disturbance مه کوئ۔

جناب نجم الدین، د خان لالا د هغے خبرے وضاحت خکه کیږی چه د هغے چیف منسټرصاحب ته هم پته ده چه کله خان لالا تقریر ته پاڅیدو نو چیف منسټر صاحب ترے واک آوٌټ اوکړو، بهر ته اوتوو جی، دا خو یوه ښکاره خبره ده جی۔ خو زه تاسو ته عرض کومه، خلق راوتل او چه راووتل نو په دے کښ ټولے پارټئ شامل وے، په ملاکنډ ډویژن کښ هرټالونه وو، په دے کښ ټول ایم پی ایز حاضر وو، سابقه ایم پی ایز پکښ حاضر وو، د پارټو مشران پکښ حاضر وو او بیا دا خلق تلے دی، هلته نے چه څه حرکات کړی دی یا څه تورِ پهورِشوے دے، د هغه تورِ پهورِمطابق ایف آئی آردرج شوی دی۔ یو ایف آئی آر په ملاکنډ ایجنسئ کښ درج شوے دے او یو په دیر ډسټرکټ کښ درج شوے دے او په دے دواړو ایف آئی آرکښ د شل شل، پنځویشتو پنځویشتو کسانو اندراج شوے دے جی۔ زه افسوس په دے خبره هم کومه، ما هغه بله ورځ د وزیر قانون صاحب په نوټس کښ راوستے ده، مونږه وایو چه شعیب خان نن په جیل کښ ناست دے، دا حکومت په بدنیتئ باندے هلته کښینولے دے جی، دا انتقامی کارروائی ده خکه چه په هغے کښ جماعت اسلامی والا وو، لیدران وو، د هغوی نه کیس Withdraw شو، پیپلز پارټئ والا نه جی Withdraw شو جی، مسلم لیگ نه Withdraw شو، د هغوی نه مخکښے withdraw شوے وو۔ د دیر ډسټرکټ ټول ایف آئی آر Withdraw شو او صرف یو شعیب خان کیس چه کوم دے، نو هغه نن یوه نیمه میاشت ده چه په جیل کښ ناست دے جی۔ مونږه به احتجاج نه کوو؟زه دا وایمه سر، مونږه به احتجاج نه کوؤ؟ میاں صاحب د اختر په ورځ باندے

پولیس والا اووهو، اوټکوو او بیا د شپے جیل ته هم اولیږو جی، دا د ایم پی اے جی پوزیشن دے؟ او که نن زما دا پوزیشن دے نو سبا د ده هم دا راتلے شی جی۔ په نورو حکومتونو کښ دا حرکات په دے طریقه باندے نه دی شوی جی۔ مونږه دا وایو جی، مونږه هغه بله ورځ دوئ ته وئیلی دی، وزیر قانون زما سره وعده کړے ده سر، ستاسو په سربراهئ کښ زمونږه اجلاس شوے دے او ما سره ئے وعده کړے ده چه زه د چیف منسټر په نوټس کښ دا خبره راولم، د شعیب خان به اسمبلئ ته د حاضرولوکوشش کوم لیکن نن ورځے پورے، مونږه ورته ښکاره په هغه ورځ باندے دا اووئیل چه د شعیب خان نه بغیر دا اسمبلی نامکمله ده۔ د دے اسمبلئ د چلیدو طریقه کار نشته دے جی۔ بیا په دے اسمبلئ کښ ګړبړ وی، که دا اسمبلی په پر امن حالاتو کښ چلوئ، نو شعیب خان راولئ ځنګه چه د نورو نه کیسونه Withdraw شوی دی، د شعیب خان هم کیس Withdraw کړئ او دلته اسمبلئ ته ئے حاضر کړئ۔ باقی خبره جی زه، اوس به حاجی عدیل صاحب هم خبره کوی، هغه ډیر په تیزئ سره دے، خو که دوئ دا خبره هواره نه کړی نو دا اسمبلی خمونږه نه څوک نه شی چلوئے جی او۔

<u>جناب سپیکر</u>: جی حاجی صاحب، ګورنمنټ سائډ به د دے نه وروستو جواب ورکوی جی۔

<u>حاجی محمد عدیل</u>: جناب سپیکر! آپ کا شکریہ۔ میں سب سے پہلے قومی اسمبلی کے رکن، جناب نسیم الرحمان صاحب کو Wel come کرتا ہوں کہ وہ ہماری اسمبلی کے اس سیشن میں آئے ہیں اور یقیناً ہمارے اس مسئلے کو قومی اسمبلی میں بھی زیر بحث میں لائیں گے۔ جناب سپیکر! ہم نے ایجنڈا میٹنگ میں یہ کہا تھا کہ جب تک ایک Constituency کی بھی نمائندگی نہ ہوگی اس اسمبلی میں، ایک پورا حلقہ اپنی نمائندگی سے محروم ہوگا، تو یہ اسمبلی پر امن طریقے سے نہیں چل سکے گی۔ اس میں دوستی اور روایت کی فضا نہیں بن سکے گی۔ ہم سے وعدہ کیا گیا تھا کہ یہ مسئلہ ہم حکومت کے پاس لے جائیں گے اور اس مسئلے کو حل کریں گے۔ ایک طرف تو حکومت چاہتی ہے کہ یہ اسمبلی پر امن طریقے سے Run کرے اور دوسری طرف اسمبلی میں اپوزیشن کے ممبروں کو جیلوں میں بھیجا جاتا ہے۔ ایک نئی روایت ہے جناب سپیکر۔ جناب سپیکر، پہلے یہ ہوتا تھا کہ قومی مسائل، قومی

اسمبلی میں Discuss ہوتے تھے لیکن پورے سال میں پینتالیس دن اسمبلی کا اجلاس ہوتا ہے، تین سو پینسٹھ دن میں صرف پینتالیس دن اور نتیجہ یہ ہے کہ تین سو بیس دن لوگوں کے مسائل پھر سڑکوں پر حل ہوتے ہیں۔ جناب سپیکر! ماضی میں بھی ہر حکومت کے خلاف اس کی اپوزیشن نے جلوس نکالے ہیں، جلسے کئے ہیں لیکن ایسا کبھی نہیں ہوا ہے۔ اب یہ ایک نئی روایت نکلی ہے کہ اور لوگوں کو تو چھوڑ دو لیکن اس علاقے کے منتخب نمائندے کو جیل بھیج دو، اس کو تھانے بھیج دو۔ میاں افتخار کی مثال ہمارے سامنے ہے، لاٹھی چارج بھی ان پر ہوا ہے اور انہیں تھانے میں رکھا گیا۔ انہیں چوبیس گھنٹے غیر قانونی طور پر Arrest کیا گیا اور یہی مثال شعیب خان کی بھی ہے۔ اگر شعیب خان نے کوئی جرم کیا ہے تو وہی جرم دوسرے لوگوں نے بھی کیا ہے لیکن ان کے کیسز واپس کئے گئے ہیں۔ جناب سپیکر! اگر حکومت چاہتی ہے کہ اسمبلی کے چند دن خوشگوار گزریں، اس نے یہ اجلاس مجبوراً" بلایا ہے تو یہ طریقہ نہیں ہے کہ اس اسمبلی میں ہماری اپوزیشن کے ایک حلقے کی نمائندگی نہ ہو۔ جب اپوزیشن کے ایک حلقے کی نمائندگی نہیں ہوگی تو یہ اسمبلی خوشگوار طریقے سے چل نہیں سکے گی اور یہ روایت قومی اسمبلی میں بھی ہے اور سینیٹ میں بھی ہے کہ جس ممبر پر اگر 302 کے کیس بھی بنے ہیں، جس ممبر پر اٹھارہ اور بیس بیس کیسز ہیں اور ملک کی تمام مختلف عدالتوں میں وہ کیس چل رہے ہیں تو ان سینیٹرز کو اور ان قومی اسمبلی کے ممبروں کو اجلاس کے دوران لایا جاتا ہے۔ جناب سپیکر! Protection کی جو روایت ہے، اگر ہمارے رولز میں کوئی کمی ہے تو میں سمجھتا ہوں کہ روایت کے تحت ان کو بلایا جائے اور حکومت کا یہ فرض ہے۔ ہم یہ کہتے ہیں کہ یہ فیصلہ عدالت کرے گی کہ جرم کس نے کیا ہے؟ ان پر جو دفعات لگی ہیں، وہ غلط ہیں یا صحیح ہیں لیکن یہ ہمارا حق ہے، اس اسمبلی کا حق ہے اور اس حق کو حکومت کو تسلیم کرنا چاہئے اور حکومت کی کوشش ہونی چاہئے تھی کہ جو ممبر آج جیل میں ہے، اسے اپنے حلقے کی نمائندگی کیلئے یہاں Produce کرنا چاہئے تھا تاکہ وہ اپنی بات کر سکتا۔ یہ الگ بات ہے کہ لوگ جلوسوں میں شامل ہوتے ہیں اور جو حکومت والے ہیں، وہ پھر کہتے ہیں کہ ہم تو شامل ہی نہیں ہیں لیکن اس سے ہمارے ممبر نے کبھی انکار نہیں کیا ہے کہ اس میں شامل نہیں تھا، وہ بجلی کا ایک عوامی مسئلہ تھا اور اس مسئلے پر تو اس ہاؤس سے کئی مرتبہ متفقہ قراردادیں پاس ہوئی ہیں۔ جناب سپیکر! اسمبلی ہاؤس سے یہ کہا گیا ہے کہ اگر ہمارے ہاں لوڈ شیڈنگ ہوگی تو ہم بجلی گھروں پر قبضہ کریں گے۔ اس

ہاؤس کی ایسی کئی متفقہ قراردادیں موجود ہیں۔ تو جناب سپیکر، اگر اس ہاؤس کی قراردادوں پر ایک ممبر نے عمل کیا ہے تو آج اس کو اس بات کی سزا دی جا رہی ہے۔ میں یہ سمجھتا ہوں کہ ابھی بھی وقت ہے کہ حکومت کی جانب سے ہمیں یقین دہانی کرائی جائے، مقدمے کی جو بھی نوعیت ہو گی، سزا ملے گی یا نہیں ملے گی، بری ہوں گے یا نہیں لیکن ممبر کو تو اپنے حلقے کی نمائندگی کیلئے اس ہاؤس میں موجود ہونا چاہئے اور حکومت کو چاہئے کہ وہ اپنے فرائض پوری طرح انجام دے۔ شکریہ۔

جناب سپیکر: جی، توفیق خان۔

جناب توفیق محمد خان: ډیره مهربانی، سپیکر صاحب۔ زما نه مخکښ خو زمونږ رونړو ټولو ډیر په تفصیل باندے خبره اوکړه۔ دا هاشم خان ته حیران یمه چه دے دومره ------

جناب سپیکر: یره جی، تاسو ریفرنس مه کوئ، ضرورت څه دے چه د بل خبره کوئ، خپله خبره اوکړئ۔

جناب توفیق محمد خان: ښه جی۔ نه نه، بس نه کوؤ جی۔ دا څنګه چه حاجی عدیل صاحب اووئیل نو زه خو دا وایم چه زمونږ لاء منسټر صاحب خو وکیل هم پاتے شوے دے او ډیر پوهه دے او سردار صاحب هم ډیر ښه پوهیږی۔ زه دا وایم چه که دا حالات چه کوم پیدا شوی وو، که دا د سردار صاحب په حلقه کښ وے نو دے به ترے نه وروستو شوے وو؟ دے به د هغوی نه مخکښ یو قدم تلواو په زرګونو خلق وو، یو نه وو، دوه نه وو، زرنه وو، لس شل زره خلق وو نو که دا د لاء منسټر صاحب په حلقه کښ وے نو ده به څه کول؟ چه دومره لوئے لوډ شیډنګ کیږی لکه څنګه چه حاجی عدیل صاحب، زمونږه ډپټی سپیکر صاحب اووئیل نودغه حال خو زمونږه هم راروان دے۔ اوس هم دوئ وائی چه بجلی سوا شوے ده او درے خله زمونږه په حلقو کښ لوډ شیډنګ کیږی۔ دا خو نن شعیب خان کړے دے، سبا نے زه کوم او سبا به نے بل د دے معزز ایوان رکن کوی نو په هغه باندے به دا کیس جوړیږی او بیا تاسو جناب، وکیل پاتے شوے یئ، دا لاء منسټر صاحب وکیل پاتے دے، په دے هاؤس کښ تقریباً اکثریت د وکیلانو دے، چه یومستغیث استغاثه اوکړی، په شلو کسانو باندے دعوئ اوکړی او بیا

په هغے شلو کسانو کښې نولس یا اتلس کسانو نه Withdraw کړی، د چا پکښې Bail اوشی او بیا یو کس ساتی، نو د دغه استغاثے څه حیثیت پاتے شو؟ دا استغاثه Unvalid ده، د دغه استغاثے څه حیثیت نشته دے اګرچه دا کیس په کورټ کښې دے، کورټ چه هر څه فیصله کوی خو دا د حکومت یو انتقامی کارروائی ده او بالکل ناجائزه کوی او ظلم نے کړے دے، زیاتے نے کړے دے۔ یوه میاشت څه د پاسه هغه په جیل کښې ولے تیره کړله؟ دا زیاتے دے او دوئ د فوراً د دے فیصله اوکړی او هغه د را پریږدی۔ کیس څه خبره ده؟ دا ضروری خبره ده او دا ډیره اهمه خبره ده چه تر څو پورے دا فیصله نه وی شوے، دا هاؤس چلیدل ما ته ډیره ناممکنه خبره ښکاری۔ وړومبے به دا فیصله په دے هاؤس کښې کیږی۔ ډیره مهربانی۔

<u>جناب محمد افتخار خان مهمند</u>، جناب سپیکر صاحب! زه یوګزارش کوم۔ جناب سپیکر صاحب! محترم بشیر بلور صاحب چه کوم پوائنټ آف آرډر دلته Raise کړو، هغه ډیر معنی خیز دے جناب سپیکر صاحب، چه هغوی اووئیل چه دا House is not in order خکه چه دلته کښې یو محترم ممبر صاحب چه کوم هغه خپلو خلقو نمائنده ټاکلے دے، Elect کړے نے دے، په دے هاؤس کښې موجود نه دے۔ اوس جناب سپیکر صاحب، ګزارش دا دے چه دا یو نمائنده ایوان دے او تاسو زمونږه د دے هاؤس کستوډین یئ او هغه تاسو ته دا درخواست پیش کوی۔ ګزارش دا دے جناب سپیکر صاحب، چه

Till such time, the crime is proved and the Member is disqualified by the Election Commission, he remains the observative of this august House. چه تر څو پورے هغه د دے معزز ایوان ممبر دے جناب سپیکر صاحب، There is no law that come in his way that he can come and represent his constituency in this august body. د دے د پاره جناب صاحب، په داسے مهذبه معاشره کښې آئین وی او قانون وی او بنیادی حقوق وی۔ نو زما جناب سپیکر صاحب، دا ګزارش دے چه تر څو پورے هغه د هغے علاقے نمائنده دے، قانونی طور باندے هغه Disqualify شوے نه دے نو جناب سپیکر صاحب، څنګه چه زما دے ورور، بشیر احمد بلور

صاحب په پوائنټ آف آرډر باندے دا اووئیل House is not in order نو

Janab Speaker Sahib, I feel that we have to appeal to you as a custodian of this House that you make a ruling in this case that he should be produced in this House and allowd to represent his constituency till such time under the Constitution and under the law if that restrain himself. This is my submission, Janab Speaker Sahib. Thank you.

جناب فرید خان طوفان، جناب سپیکر صاحب! یوه خبره زه کوم- په دے باندے خو ډیرے خبرے به شوے وی، زه پکښې په آخره کښې راغلم جی- زه ستاسو په وساطت سره په دے هاؤس کښې یو سوال کول غواړم چه نجم الدین صاحب هر وخت وائی چه شعیب خان په جیل کښې ناست دے نو ناست نه دے، پروت دے- په جیل کښې ټوله ورځ څوک کښیناستلے نه شی خو جناب، پروت دے په جیل کښې او دوئ اچولے دے- د شعیب خان کوم کیس چه دے، نو زما معلومات دا دی چه په دے شعیب خان چه کومه دفعه د بغاوت کوم کیس جوړ شوے دے نو دے په دے کښې حکومت نه وو Arrest کړے- دا چه اوس کوم کیس جوړ دے چه دا کوم د څو خلقو نه واپس اخستے شوے دے او یو شعیب خان پکښې پروت دے نو دے د دے کیس لاندے نه دے نیولے شوے، دا د دوئ نه واپس اخستلے شوے وو- حقیقت دا دے چه دے په کوم کیس کښې پروت دے، د بجلئ د لوډ شیډنګ خلاف چه کوم بائیکاټ شوے وو نوهغه د دوئ مونږ ته اوښائی چه هغه څه کیس دے؟ ځکه چه زما دا معلومات دئ او دوئ د دے خبرے تردید نه شی کولے- که نے اوکړی نو په ایمانداری سره د اوکړی چه په کوم کیس کښې چه هغه نیولے شوے دے نو آیا شعیب خان په دے کیس کښې نیولے شوے دے؟ نه جی، اوس د دغے وضاحت د دوئ اوکړی چه هغه کوم کیس دے چه هغه پکښې اوس پروت دے ځکه چه د انُیس کسانو نه واپس شو او د ده نه نے هم واپس کړے دے خو دے بیا ولے په هغه کیس کښې اوس پروت دے؟ د دے وضاحت د حکومت اوکړی-

جناب سپیکر، جی-

حاجی عبدالرحمان خان، جناب سپیکر صاحب! مونږه ټول په دے هاؤس کښې چه ناست یو د ممبرانو په حیثیت، رونړه یو۔ خبره دا ده چه د شعیب خان سره ما اولیدل، شعیب خان د دے نه هم دغه دے چه په دغه وخت کښې شعیب خان وو هم نه۔ چا چه حکم ورکړے دے چه دا شے بند کړئ او بیا گوهر ایوب په قومی اسمبلئ کښې کومه خبره کړے ده، هغه قابل مذمت ده۔ یو سړے نیولے شوے دے، کیس نے فیصله شوے نه دے او گوهر ایوب وائی چه ده د کروړونو روپو نقصان کړے دے، لهذا په دے کښې د پریښودلو دغه نه شی کیدلے۔ تاسو هغه کیسټ د قومی اسمبلئ راوغواړئ او د هغے په رڼړا کښې بیا خبره اوکړئ خو مونږه دا وایو او زه دے ټول هاؤس ته خواست کوم چه تر څو پورے شعیب خان نه وی راغلے نو مونږه خپله ډله خو به یو خو دے نورو ته هم خواست کوؤ چه مونږه به په دے اسمبلئ کښې نه کښینو، واک آؤټ به کوؤ، بالکل به نه کښینو او دا نن په شعیب خان ده او سبا دا تاسو هر یو په خان اوګنړئ۔ زمونږه د ایم پی اے توب یوه ورورولی به وی او مونږه به په دے کښې په شریکه احتجاج کوؤ چه۔ شعیب خان څه چل کړے دے؟ هیڅ نے هم نه دی کړی۔ چه چا څه کړی وو، د هغوی نه نے کیس Withdraw کړلو، چه چا نه وو کړی نو هغه نے گیر کړلو۔ نو لهذا زما دا تجویز دے ستاسو په وساطت دوئ ته چه مونږه له په دے کښې کښیناستل تر هغے پورے نه دی پکار چه تر څو پورے شعیب خان نه وی راغلے۔

جناب نیک عمل خان، جناب سپیکر صاحب! زه اوس لږ ناوخته راورسیدم او زما په خیال باندے په دے باندے به ډیر زیات بحث شوے وی۔ زه د هغه خانے اوسیدونکے یم، ما ته معلوم دی چه هلته څه شوی دی او څنگه حساب کتاب دے؟ دے بالکل په دے کیس کښې نه دے نیولے شوے ۔ مونږ ته دے دا اوښائی چه دے په کوم کیس کښې نیولے شوے دے؟ یوه خبره۔ دویمه خبره دا ده چه څنگه لکه چه عبدالرحما ن خان اووئیل چه گوهر ایوب دا بیان ورکړے دے چه دومره دومره Losses شوی دی، عجیبه خبره خودا ده زما په خیال په دے هاؤس کښې به چا هغه دروازے نه وی لیدلے چه هیډورکس ته تلی دی او د هغه خانے نه چه هغه اوبه راځی تر مالاکنډ دے بجلی گهر ته لاندے راځی،

دا په څومیله کښې دے او دا خلق وائی چه یوه گهنټه بند شوے دے، د هغے دومره پیسے ضائع شوی دی۔ مونږ له څه راکوی په دے اسمبلئ کښې، یعنی چه د یوے گهنټے خو چه هغه کوم خرچ یادوی چه دومره دولت خراب شو چه مونږه له د بجلئ هغه رائلټی څه راکوی؟ که په دغه حساب باندے نے واچوئ نو بیا د ورسره بیگم صاحبه حساب اوکړی چه څومره پرے کیږی چه مونږ له راکړی۔ بله خبره دا ده چه دا څلور پینځه میله فاصله ده، دوئ وائی چه یوه گهنټه بند شوے دے نو چه یوه گهنټه بند شو په پینځه میله کښې دا اوبه راروانے دی، بجلی چرته ده، پینځه میله کښې راروانے دی، کوم خائے کښې Loss شوے دے؟ ما ته د اوبنائی څوک کنه۔ یو ایس۔ډی۔او نه دی ونیلی، یو ایکسین نه دی ونیلی، هسے خبرے دی او هسے نے دا سړے رانیولے دے۔ که داسے حالات وی لکه دا کوم چه په دے هاؤس کښې کیږی یا په دے علاقه کښې کیږی نو زما په خیال زمونږه د دے خلقو په دے خائے کښې د دے ناستے څه ضرورت نشته دے۔ پکار دا دی، مونږه دغه رونړو ته هم وایو چه سبا له په تاسو هم دا شے راتلے شی، دا نه چه گنی نن یوازے په مونږه دے او په تاسو نه شی راتلے۔ سبا له به تاسو دلته ناست یئ او بیا به په تاسو راځی او بیا به تاسو مونږ ته وایئ چه زمونږ سره داسے اوکړئ۔ جناب، دا بالکل False case دے، بالکل غلط کیس دے او هسے نے پرے جوړ کړے دے او هسے نے هغه سړے په حوالات کښې اچولے دے۔ مونږه دا ټول وایو چه مونږه د دے سره واک آوټ کوؤ۔ مونږه دا خپل ملگری خو به یو، دوئ ته هم وایو چه زمونږ سره د واک آوټ اوکړی۔

بیگم نسیم ولی خان، محترم سپیکر صاحب! زما خیال دے چه په دے مسئله باندے دومره ډیره زیاته خبره اوشوه چه زه خو چه پاڅمه نوخان راته بد ښکاری۔ خبره دا ده چه ټول آرخونه چه دی د خلقو، زه په هغے بحث نه کوم، آیا دا د دے اسمبلئ دغه نه دے چه دا هاؤس د پوره وی او هاؤس د پوره وی نو هلته د کارروائی کیږی۔ یو خو دا وی چه یو سړے ناجوړه دے او درخواست نے کړے دے او هاؤس پوره نه دے او یو سړے څه کار پسے تلے دے، هاؤس پوره نه دے۔ داسے طوفان صاحب گهنټه وروستو راغے۔ یو دا ده چه یو

